# د شاهي کمیساری پلټنې د کرایسټچرچ جوماتونو د برید په اړه

## شاهي کمیسیون څه شی دی؟

د شاهي کمیساری پلټنې د کرایسټچرچ جوماتونو د برید د مارچ 2019 په اړه (شاهي کمیسیون) د شورا په حکم په 8 اپریل 2019 د ګورنر جنرال جلالتمابې ډیم پټسی ریډدی لخوا رامنځته شو.

شاهي کمیسیون به د پیښې نه مخکې د حکومتي سکتور ادارو فعالیتونو د دې پیښې په اړه څیړنې کوي. موخه دا ده چې د نیوزیلند خلکو، په ګډون د مسلمانو ټولنو ته ډاډ ورکړو، چې د دوی د خوندیتوب او محافظت تضمین کولو لپاره د حکومتي سکتور ادارو لخوا ټول مناسب اقدامات ترسره کیږي.

دا شاهي کمیسیون به خپل راپور په 30 April 2020 وړاندې کوي.

د شاهي کمیسیون چلند به په عدالت او بې پړیتوب او د برید له امله د اغیزمنو ټولو خلکو او په ځانګړې توګه د قربانیانو او د هغوی کورنیو، مسلمانو ټولنو، د کرایسټچرچ پراخه ټولنه او د نیوزیلند خلکو پر اساس وي.

## دا پلټنې د څه شي په اړه دي؟

دا شاهي کمیسیون اړین دی چې موندنې وکړي پر:

- د حکومت اړوند سکتوري اداري د برید کوونکي په اړه د 15 مارچ 2019 څخه مخکې په څه پوهیدل
- د دولتي سکتور اړونده ادارو څه وکړل (که څه یې کړي وي) د دې پوهې په اړه
- که چیرې کوم بل داسې څه وي چې دولتي سکتور اړونده ادارو کولی شول چه د برید څخه مخنیوی وکړي
- په راتلونکې کې د ورته بریدونو مخنیوی لپاره د دولتي سکتور اړوندې اداري باید څه وکړي

## زه څنګه مرسته کولی شم؟

دا شاهي کمیسیون غواړي چه د هر هغه کس څخه واوري که داسې مالومات لري چه د دې پلټنې سره مرسته وکړي.

موږ غواړو د افرادو، ټولنو او سازمانونو څخه واورو د دوی د تجربو په اړه کوم چې د لایحه عمل سره تړاو لري.

شاهي کمیسیون همدا راز د حکومت سکتور اړونده ادارو اوسنی او پخوانی کارکوونکیو او قرار دادیانو ته بلنه ورکړي ده چې زموږ سره اړیکه ونیسي که دوی باور لري چې دوی کولی شي زموږ د پلټنې سره مرسته کولی شي.

# جلالتماب ویلیام ینګ، KNZM

## د پلټنې رئیس



جلالتماب ویلیام د عالي محکمې قاضي، او د نیوزیلند د استیناف د محکمې پخوانی رئیس دی. دی عالي محکمې ته په کال 2010 کې مقرر شوی دی.

جلالتماب ویلیام د کنټربري پوهنتون څخه په 1974 د حقوقو د پوهنځی نه په عالي درجه فارغ شوی دی. او بیا یې د دکترا دوره په کیمبریج پوهنتون کې مکمله کړې او په 1988 براستر سول او بیا د ملکه مشاور په 1991 کې شویدی.

په 1997، جلالتماب ویلیام د سترې محکمې قاضي، بیا په 2005 کې د استیناف محکمې، او د استیناف محکمې رئیس په 2006، او عالي محکمې ته په 2010 کې مقرر شوی دی.

"دا د ویاړ ځای دی چې د دې پلټنې رهبري کوم. د نیوزیلند ټول خلک حق لري چې په خپلو ټولنو کې خوندي او د خوندیتوب احساس وکړي. دا شاهي کمیسیون یو مهم کردار لوبوي چه د داسې غمیزې د پیښیدو څخه مخنیوی وکړي."

# جکي کین

## غړي



جکي کین (نګی تاهو، کتی ماموی، ویتاها) په چلي، کولمبیا، پیرو، اکوادور، او بولیویا کې د 2015 تر 2018 پورې د نیوزیلند سفیره وه.

د سږ کال د فبروري څخه دا په تې رونانګا او نی تاهو کې کار کوي.

جکي د نیوزیلند په اوتاګو پوهنتون کې د حقوقو او سوداګرۍ زده کړې دي. هغه یوه دیپلوماته او د نیوزیلند په بهرنیو او سوداګرۍ وزارت کې په مختلفو ادارو کې کار کړی دی په ګډون دی د سوداګرۍ د خبرواترو څانګه، د حقوقو څانګه او د امریکا څانګه. جکي همدا راز په سینګاپور، مکسیکو او ونواتو کې د سفارت معاونه په حیث هم کار کړی دی.

"نیوزیلند یو سوله ایز، او میلمه پال هیواد دی. موږ باید هر څه وکړو چې خپل هیواد د ترهګرۍ له کړنو خوند وساتو. زه ویاړم چې په دې مهم کار کې برخه اخلم."


د شاهي کمیسیون سره اړیکه نیول

ایمیل: info@christchurchattack.royalcommission.nz تیلفون: 0800 222 987 www.ChristchurchRoyalCommission.nz